# هوپو تعليمي کيسی

## د بزګر ښځه

# کاغذي پاکټونو نانځکه



پر لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.



**مواد چې اړتيا به ورته ولرئ:**
غرمی ډوډئ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرايون (د موم رنګی)، مارکر، ځليبن، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ يا کارتونه، سکاش ټيپ، کيچی، سټيپلر، د ميزونو لپاره اخبار.
**اختياري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانئ خلتی، پاپيونو پاکوونکي، تاوونکی، مری (مشکنی)، تنئ، د ټوټو چنډی، د ويښتو لپاره تارونه، پلاستيکي ستړګی، او نور



۱. د پاکټ (خولې بندوونکي) رپاندي پوښ په اندازه کارت يا جوړښتي پاڼه راواخلئ، بزګر ښځې مخ پاسنئ برخه (ستړګی، باڼه، غومبوري/ اننګئ او پوزه) رنګه کړئ. يا، پر پلاستيکي ستړګو، رنګه کاغذي ستړګو او غومبوري او نورو يې ځليبن کړئ. کله چې رسامئ وچی شي مخ راپرې کړئ.

۲. له پيړ سور هنري کاغذ سره چې د پاکټ له رپانده کاغذ څخه يونيم چند لوی وي، د سر پټوونکي/ جامی خاکه رسمه، پرې او پر رسامئ، رنګولو يا زر زريو يې سينګار کړئ.

يو ځل چې سر/ مخ پوره وچ شو، د خلتی رپانده کاغذ پورې يې ځليبن کړئ، پام مو وي چې کاغذ لاندې ځليبن نه کړئ (خلته بنده نه شي).



۳. د جامی لپاره: د تور هنري کاغذ پر کارولو، جامه او لستوڼو برخه له خلتی سره په يوه اندازه پرې کړئ. (تاسې ممکن لستوڼو بيل پرې او له جامو سره يې ځليبن کړئ). زړوکی/ پړونی له هماغه کاغذه پرې کړئ چې د سر جامو لپاره مو کارولی وو او هماغسی يې سينګار کړئ. زړوکی جامو پورې ځليبن کړئ او نور سينګار پرې ورډېر کړئ او جامو سره يې برابر کړئ يا زري، ټوټو چنډې يا نور سينګار ورکړئ. لاسونه او بوټان پرې او د جامی شاته يې ځليبن کړئ.

کله چې جامه وچه شي، ټولی جامی ټوټه د خلتی مخی ته د رپانده کاغذ لاندی ځليبن کړئ. پام مو وي چې خلته پر ځليبنولو يا سټيپلر بنده نه کړئ. سره ژبه د خلتی رپانده کاغذ لاندی او د جامی دپاسه ځليبن کړئ.



د نانځکو او توکو په اړه نورو مفکورو لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

له استعمال وړاندی نانځکی وچيدو ته پريږدئ. ځيني وخت د ټينګولو او ثبات لپاره لږ إضافي ځليبنو يا سټپلر سنجاق ته اړتيا وي. **ښه وخت ولرئ!**

د بزګر ښځه د آدريس شاه ليکنه، د روز ماری سنتياګو رسامي، ۱۹۹۸ کال چاپ حقوق



۴. **نور توکي:** مڼه رسمه او پرې يې کړئ. دا ټوټه په پياله کې کيږدئ چې په زمکه کې د سوړى استازيتوب وکړي. د ورقى سنجاق يا رابرټيپ پر کارولو مڼه د بزګر ښځې لاس پورې ونښلوئ وروسته لدې چې مڼه بيرته ترلاسه شوه.

۵. له څو کوچنيو بدلونونو سره، تاسې د مچيو پالونکي نانځکه هم جوړولاى شئ. د سر جامو/ پړوني رنګ سپين ته بدل کړئ. د مخ پر ځاى مچيو پالونکى به څلور کنجه "پرده" ولري. د ښکليو جامو پر ځاى، سپينه چپنه او لاندې ترې تور پتلون لري. تور بوټان پرې ورډېر کړئ ... او دا ستاسې مچيو پالونکى شو.



**نور لوبغاړي:** د کيسى عکسونو پر کارولو نور لوبغاړي رسامي يا له مجلو د مچيو، غواګانو، پيشيو، سپيو، پړو، لرګي اورونو او نور پرې کړئ. عکسونه د کارتونو پر مخ څليبش او پرې يې کړئ. ټوټى د کاغذي خلتو رپانده کاغذ دپاسه څليبش کړئ.

**لښتو نانځکى:** ځناور او نور توکي رسامي، سينګار او پرې کړئ. د پرې شوو شاته پنسل يا لښته رابرټيپ او د حرکت لپاره يې وخوځوئ.







## د نانځکو ډرامى/ تياتر نظرونه/ مفکورى

- پر ميز سرميزي يا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د ميز لاندې کښيني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږيږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوى کارتن مخ کې څلور کنجه کړکئ ورکړئ، او "سټيج" دروازه شاته ورکړئ. يو يا دوه زده کوونکي په کارتن کې کينوئ تر څو خپله ډرامه/ تياټر وړاندې کړي.
- يو بل ته مخامخ چوکئ کيږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کيني او خپلې ډرامى اجرا کړي. دا نانځکى د ډرامى په مرکز يا زيرمه ځاى کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتيا وي، لاسرسى ورته وشي.